
# مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
چهارشنبه د ۱۳۹۸ د لیندۍ ۱۳مه | د ۲۰۱۹ د ډسمبر خلورمه | ۴۷۴ یمه گڼه


کتاب

۴ مخ

## سل ځېرې سل تجربې




د کتاب ژباړن وايي، موږ تر ډېره په دې کتاب کې د هغو کسانو تجربې راوړې دي، چې د ژوند په اړه يې له هغوی ښه درس اخيستی دی او هم يې نورو ته د عملي کولو سپارښتنه کړې ده.


# سوله او د اسيا بنسټ نظر پوښتنه؛

## نږدې نوي سلنه افغانان سوله غواړي او کلک ملاتړ ترې کوي



۳

## کرنې رياست: روان کال په ننگرهار کې د ستروسو حاصلات ۲۵ سلنه لوړ شوي دي



د ننگرهار چارواکو ويلي چې په دغه ولايت کې سږ کال د ستروسو حاصلات ۲۵ سلنه لوړ شوي دي.
د دغه ولايت د کرنې رياست وياند انعام الله مياخېل ويلي چې تېر کال د ننگرهار ولايت په ۱۴ ولسواليو کې په ۱۳۸ جريبه ځمکه د مالټو بڼونه جوړ شول، چې سږنې حاصلات يې ۳۵۹۰ ټنو ته رسېږي.
مياخېل زياته کړې، په روان کال کې له دغه ولايت څخه د ليمو ۹۷۰ ټنه او د غټو ليمو ۶۰۴۹ ټنه حاصلات هم راټول شوي دي. د ننگرهار د کرنې رياست مسوولينو دغه راز ويلي، هڅه کوي چې د ستروسو د حاصلاتو په زياتېدو له پاکستان څخه د دغه محصول د وارداتو مخه ونيسي.
دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې د دغه ولايت چارواکو ويلي وو چې د ننگرهار له کانال څخه به سږ کال د مالټو ۵۲۰۰ ټنه حاصلات تر لاسه کړي .

### که د ټاکنو پايلې اعلان شي، ستونزې حل کېږي؟
۲ مخ

### د ناټو ۷۰ يمه کليزه؛ دا ټلواله کمزورې که ځواکمنه شوې؟
۲ مخ

### د طالبانو او امريکايانو په مذاکراتو کې د اختلاف پنځه مهم ټکي
۳ مخ

## وکيلان: د مخابراتي ماليې له درکه راټولې شوې ۱۵ ميلیارده افغانۍ په ناقانونه توگه ماليې وزارت ته لېږل شوې

د لس سلنه مخابراتي ماليې د راټولولو بهير چې پکې د فساد په تړاو نيوکې ډېرې شوې، د ولسي جرگې غړي د دغو پيسو د حيف و ميل په تړاو اندېښنه ښيي. وکيلان چې تازه د ۱۳۹۹ لمريز کال د بوديجې پر ترتيب کار کوي، وايي چې د ماليې وزير له افغانستان بانک څخه د لس سلنې ماليې نږدې ۱۵ ميلیارده افغانۍ ماليې وزارت ته لېږلې چې په تړاو يې ولسي جرگې ته وضاحت نه دی ورکړل شوی. د ولسي جرگې د مالي او بوديجوي کمېسيون غړو ويلي چې د يادو پيسو په تړاو د تېر په څېر اندېښنې موجودې دي چې ښايي فساد پکې شوی وي.
د ولسي جرگې غړي محمود خان نصرت ويلي: «له افغانستان بانکه څخه ۱۵ ميلیارده افغانۍ د کرېډېټ کرنسي ماليې وزارت ته انتقال شوې دي، چې اوس مصرفېږي، دا ډېره مهمه موضوع ده چې غيرقانوني انتقال شوې دي». د ولسي جرگې ځينو نورو غړو ويلي چې د لس سلنه مخابراتي ماليې له درکه د راټولو شوو عوايدو سرنوشت نامعلوم دی او له افغانستان بانک څخه ماليې وزارت ته د يادو پيسو لېږد د قانون خلاف عمل دی. په ورته وخت کې د افغانستان روڼتيا څار بنسټ هم ويلي، مخابراتو وزارت چې د لس سلنه مخابراتي ماليې د راټولولو مسووليت لري، پر عوايدو حاکميت نه لري او يادې پيسې د ارگ له لوري په نامعلومو مواردو کې لگول شوې دي.
بلخوا ماليې وزارت هم مني چې يادې پيسې له افغانستان بانک څخه دغه وزارت ته انتقال شوې، خو په خبره يې، ياد وزارت د افغانستان د ټولو مالياتي عوايدو د راټولولو مسووليت لري.

## ډېر ژر به په پاتې ولايتونو کې د رايو د بياشمېرنې بهير پيل شي



۲ مخ

## مسئولان محلی کنر: نظاميان پاکستان ۳۰۰ متر خاک افغانستان را ماين‌گذاری کرده‌اند



مسئولان محلی کنر می گويند، نظاميان پاکستان در ولسوالی دانگام اين ولايت ۳۰۰ متر به خاک افغانستان پيشروی کرده و اين ولسوالی را ماين‌گذاری کرده‌اند.
محمد رحمان دانش، ولسوال دانگام می‌گويد، نظاميان پاکستان بر خلاف تمام اصول بين‌المللی، ۳۰۰ متر خاک اين ولسوالی را ماين‌گذاری کرده‌اند.
به گفتۀ آقای دانش، به دليل ماين‌گذاری اين ولسوالی، باشنده‌گان محل نمی‌توانند به ولسوالی‌های ديگر اين ولايت، رفت‌وآمد کنند. او می افزايد، اين موضوع با حکومت مرکزی در ميان گذاشته شده، اما تاکنون هيچ اقدامی در اين زمينه صورت نگرفته است. در عين حال شماری از باشنده‌گان ولسوالی دانگام نيز می‌گويند، نظاميان پاکستان بيشتر مناطق اين ولسوالی را ماين‌گذاری کرده‌اند. به گفتۀ آنان، در نتيجۀ انفجار اين ماين‌ها شماری از باشنده‌گان اين ولسوالی کشته و مواشی‌شان نيز تلف شده‌اند.
باشنده‌گان ولسوالی دانگام کنر از حکومت می‌خواهند که بی‌درنگ در اين زمينه با حکومت پاکستان گفت‌وگو کرده و موقف خود را در برابر ماين‌گذاری نظاميان اين کشور اعلام کند.
اين درحالی است که پيش از اين هم پاکستان در ولايت های پکتيا، پکتيکا، خوست و ننگرهار پيشروی کرده بود که در اکثريت موارد به عکس العمل شديد مردم مواجه شده، اما حکومت در برابر اين پيشروی نظاميان پاکستان خاموشی مرموز را اختيار کرده است.


if You Can Think It, We Can ink it.
غوره کیفیت او چټک خدمات
په وایگل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL Printing Co.
وایگل چاپ
+93 (0) 77 55 22 677, +93 (0) 782 98 9696
+93 (0) 202512626
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co@gmail.com

## درېځ

### که د ټاکنو پایلې اعلان شي، ستونزې حل کېږي؟

په دې ورځو کې حکومتي پلوي سیاستوال، ځینې عام خلک او کله کله بهرنیان هم د ټاکنو د پایلو د ژر اعلان غوښتنه کوي. دوی وايي چې ټاکنې شوې دي، خلکو رایه ورکړې ده او اوس پکار ده چې د خلکو د رایو پر اساس پایلې اعلان شي. دې چارې ورو ورو داسې یو تصور را پیدا کړی چې په دې اعلان سره ښايي، نه یوازې ټاکنیزه لانجه، بلکې د افغانستان نورې ستونزې هم حل شي.

خو د ټاکنو د پایلو په اعلان سره ټاکنیزه لانجه او نورې ستونزې حل کېږي او که دا به د یوې بلې ستونزې پیل وي؟

له ولسمشریزو ټاکنو ډېر وخت تېر شوی، خو د پایلې اعلان یې څه باندې دوې میاشتې ځنډېدلی دی. سره له دې چې ټاکنې له پراخ تحریم سره مخ وې او تر دوو میلیونو کمو خلکو پکې ګډون وکړ، لانجې، کمزوري مدیریت، سیاسي لوبې او بهرنۍ مداخلې د دې سبب شوې چې پایلې یې هم پر وخت اعلان نه شي. د ټاکنو د پایلو اعلان په ښکاره د ډاکټر عبدالله او نورو کاندیدانو د مخالفت پر اساس ځنډول شوی، خو په واقعیت کې یې تر شا بهرنیان دي چې د ځانګړو موخو لپاره د ټاکنو د پایلو اعلان ځنډوي.

اوس که د ټاکنو پایلې اعلان هم شي، په دوو دلایلو نه یوازې دا چې ستونزې نه حل کوي، بلکې زیاتوي یې. لومړی دا چې کاندیدان دغه پایلې نه مني او کمېسیون د حکومت پر پلوۍ او ناقانونۍ تورنوي. په دې سره نه یوازې ستونزه حل کېږي نه، بلکې سیاسي مخالفت او په ټوله کې سیاسي بې ثباتي زیاتېږي. دویم دا چې که د ټاکنو پایلې اعلان هم شي، ستونزې نه ختمېږي. د اوسنیو ټاکنو په پایله کې اعلانېدونکی ولسمشر به د شاوخوا اتو لکو خلکو رایې ولري، چې دا خپله یوه لویه ستونزه ده. د اتو لکو کسانو د رایو پر اساس، پر ۳٦ میلیونو خلکو حکومت کول او یا د دې ټولو ځان ولسمشر ګڼل، خپله ستونزه ده. د اتو لکو خلکو د رایو واکمني خپله د اساسي قانون، ولسواکۍ او جمهوریت نقض دی چې دوام یې ستونزمن دی. د اتو لکو کسانو د رایو پر اساس د یو ولسمشر او حکومت د کار دوام خپله د سیاسي بې ثباتۍ لامل کېږي، چې په طبیعي ډول به حکومت کمزوری، بې ریښې او بې ولسي ملاتړه وي. د دغسې یو حکومت راتګ چې ټول رایه ورکوونکي یې یو میلیون ته نه رسېږي، نه په کور دننه کوم مهم کار کولی شي او نه هم په نړیواله کچه د افغانستان لپاره کومه لاسته راوړنه لرلی شي، ځکه چې حکومت به کمزوری، بې ریښې او بې ولسي ملاتړه وي.

پر همدغو دلایلو د ټاکنو د پایلو اعلان نه یوازې دا چې ستونزې حل کوي نه، بلکې ډېروي یې. تر هغو چې زموږ حکومتي چارواکي د واک د غځېدو له هڅې را ونه ګرځي او پر لویو مسایلو تکیه ونه کړي او تر هغو چې زموږ سیاستوال د شخصي مسایلو پر ځای پر لویو او ملي مسایلو تمرکز ونه کړي، موږ به خپلې ستونزې ورځ تر بلې ډېروو. اوس باید حکومت د اتو لکو کسانو د رایو پر اساس ځان ته د مشروعیت اخیستو پر ځای هڅه وکړي چې ولس پر ځان را ټول کړي. باید ولسي مشروعیت پیدا کړي، سیاستوال را ټول کړي او په ټوله کې د افغانستان د اساسي ستونزو پر حل او د سولې لپاره پر کارنده لارو چارو فکر او کار وکړي.

# د ناټو ۷۰یمه کلیزه؛

## دا ټلواله کمزورې که ځواکمنه شوې؟

لیکنه: بي بي سي پښتو

د اوپا کلونو شتون ښه لمانځل غواړي، خو له لندن بهر د ناټو د دې اونۍ غونډه چې د غړو هېوادونو مشران یې پکې ګډون لري، پیکه ده.

د ناټو وياند د سرمشريزې نوم ور نه کړ، ټينګار يې وکړ چې دا ناسته تر هغه ټيټه ده. هغه وويل، تېر کال يوه بشپړه سرمشريزه وه، دا ناسته به دوديزه اوږده اعلاميه او د راتلونکو پلانونو پايله خپره نه کړي.

ولې دا پيکه توب، دا هرڅه له هغې وروسته دي چې د ناټو ډېرو مدافعانو په ځينو دلايلو سره دا ترون په تاريخ کې تر ټولو بريالۍ پوځي ټلواله وبلله.

ناټو په ۱۹۴۹ ز کال کې د خپلو غړو د ټوليزې دفاع لپاره جوړه شوه، چې د پخواني شوروي پر ضد يې د امريکا متحده ايالتونه او اروپايي ملګري سره وتړل. د کمونېزم پای يې وليد او له ډز ډوز پرته يې شوروي بلاک مات کړ.

ناټو اول ځل په بالکان کې په ۱۹۹۰يمو کلونو کې جګړه وکړه، بيا (له خپلې سيمې بهر) په نوم پر نوي لار روانه شوه چې پکې د ناټو له پولو بهر عمليات کېږي، چې په افغانستان کې عمليات او د ترهګرۍ ضد پراخه جګړه يې يادولی شو.

ناټو د پراختيا پروګرام هم جوړ کړ چې ورسره دوه چنده شوه. اوس ۲۹ غړي لري او شمالي مقدونيا به يې هم ژر کړی شي.

ناټو چې د پوځي ټلوالې هومره ډيپلوماټيکه ټلواله هم ده، په اروپا کې يې هغه که بالتيک يا بالکان هېوادونه دي، د نويو ولسواکيو په بنسټولو کې مهم رول لرلی، نوي ځانباوري يې ور کړې او ځواکمن امنيتي چوکاټ کې يې اوبدلي دي.

خو له دې ټولو سره سره ناټو لا پياوړې شوې؟

د برېټانوي دفاعي شنونکي پوهاند ميکاييل کلارک ځواب(نه) دی. هغه وايي: «ناټو په رښتيا د نړۍ په تاريخ کې تر ټولو لويه ټلواله ده. خو نن له نږدې ۳۰ غړيو سره تر هغه وخته کمزورې ده چې پخوا يې غړي تر دې نيمايي وو».

ناټو له جنجال سره مخ ده، ان که اوس لا ډېره ورټيا هم لري. سرمنشي ينس ستولټنبرګ دا تاريخي برى بولي او وايي: «دا ترون د ولسواکۍ او د قانونواکۍ په دودولو کې مرسته کوي».

په ۱۹۴۹ ز کال کې د امريکا د وخت ولسمشر هاري ترون د ناټو بنسټولو ترون لاسليک کړ. دې پراختيا د ناټو پولې زر ميله يا ۱٦ سوه کيلومتره مسکو ته نږدې کړې دي.

هغه هېوادونه چې يو وخت سور پوځ نيولي وو او د درې بالتيک جمهوريتونو په څېر يې پخواني شوروي يا د پولنډ په څېر د مسکو پخواني وارسا ترون کې ويلي کړي وو، اوس د ناټو په مدار کې دي او د روسيې ولسمشر ولاديمير پوتين دا نه خوښوي.

روسيه له هرې لارې د تمبولو هڅه کوي، اټومي سلاکوټ ځواکمنوي او په بهر کې د خپل نفوذ د نوي کولو هڅه کوي. په سوريه کې د اسد رژيم ببرته په پښو درول يې جنجالي بحث دی، خو يوه برياله هڅه ده.

په اروپا کې پر روسيه د سايبري بريدونو؛ داسې معلوماتي عملياتو چې په ټاکنو کې د نفوذ هڅه بلل کېږي او ان راډيولوجيکو او کيمياوي وسلو بريدونو تور کېږي چې لندن او د سوېلي انګلېنډ په سېلزبري کې بريدونه يې يادولی شو.

په سېلزبري کې له وروستي بريد وروسته چې مسکو يې په کلکه ردوي، د ناټو له هېوادونو د روسي ډيپلوماټانو او استخباراتي کسانو ايستل لوی ګوزار و.

ډېر خلک د نوې سړې جګړې خبره کوي، خو دا له تېرې سړې جګړې سره ډېر توپير لري چې له ۱۹۵۰ تر ۱۹٦۰ ز کلونو پورې روانه وه.

د روسيې ځواک او نفوذ د پخواني شوروي يوازې يوه نښه ده. دا هم د سړې جګړې يو ډول دی چې د اصلي جګړې په سيوري کې کېږي.

شنونکي يې خړه سيمه بولي، چې پکې د سايبري بريدونو او د کمپيوټرونو د هک کولو په څېر لاسوهنه راځي چې ثابتول يې سخت دي.

ښاغلي کلارک وايي، په لوېديځه نړۍ کې د سياسي اجماع ستونزه ده او له دې سره موږ پوتين ته دا اسان کړې دي.

ولسمشر پوتين له ناټو غوښتي چې له سرو کرښو څخه واوړي. هغه زياتوي چې روسيه به له راتلونکو لسو تر شلو کلونو ناټو ته رښتينې سرخوږی وي. هغه وايي: «خو که موږ اجازه ور نه کړو، دا به موږ ته مهم ستراتيجيک چيلېنج نه وي».

هغه زياتوي چې روسيه د خپلو موخو لپاره د لوېديځ له ذاتي نيمګړتياوو ساده ګټې اخلي. هغه زياتوي: «که لوېديځه نړۍ او لوېديځې ولسواکۍ دې ګواښ ته د ځواب لپاره پوره منسجم نه شي او دا مهال بايد ووايم چې داسې نه دي، نو بيا به روسيه په راتلونکي کې په اروپايي امنيت کې لوی رول لري».

دوی به پر اجنډا ولکه کوي. د خلکو خوښې يا غوراوی به محدودوي. دوی به وېرول کوي او د باج لپاره به زور کاروي.

د ناټو سرمشريزه د يووالي، هواري او د راتلونکي لپاره د چلن لارې جوړولو لپاره ده. خو د دې ناستې په درشل کې د تشريفاتي غونډې تر شا ستونزې هم وې.

ناټو په وياړ سره د نويو پروژو د لګښت خبره کوي چې د اروپايي ملګرو دفاعي لګښت به يې په راتلونکو کلونو کې ور سره زياتېږي.

د خپلو غړو تر منځ د مرکزي بوديجې د وېشلو نوی فارمول هم لري او دا بوديجه يې د مرکز برسلېز او نور پروګرامونو لپاره ده.

له دې سره به امريکا لږ او جرمني ډېره بوديجه ورکړي چې لا هم په خپله دفاع کې کمې سرچينې مصرفوي. دا ګام د دې لپاره دی چې په ناټو کې له ډېر لګښت سترې شوی ډونالډ ټرمپ نرم کړي او د ناټو غړو ته د ټرمپ د شرموونکې وينا مخنيوی وکړي.

د بوج شريکولو بحث له پخوا ناټو داغلې، خو ښاغلي ټرمپ دا بوج نه دی پور ته کړی. د ډېرو يو بنسټيز حس دا دی چې د ناټو د اروپايي ملګرو پر ځای، دا ترون ډېر د امريکا په ګټه دی.

پر دې سربېره، د ناټو غړي هېوادونه بايد د خپل کورني ناخالص توليد لږ تر لږه دوه سلنه پر دفاع ولګوي، خو ډېری يې لا هم له دې حده لرې دي. دا هرڅه داسې مهال دي چې د فرانسې ولسمشر اېمانوېل مکرون د سوريې په شمال کې د ترکيې پوځي عمليات غندلي او نيوکه يې کړې ده چې ناټو سازمان دې عملياتو ته مناسب غبرګون ونه ښود.

ښاغلي مکرون ويلي وو چې ناټو له ذهني پلوه فلج ده او غړي هېوادونه يې په اساسو مسايلو کې يو له بل سره همکاري نه کوي. هغه دا خبرې داسې مهال کوي چې تېره مياشت د سوريې د ډيموکراټيک ځواک وياند جهان احمد فرانسې ته په رسمي سفر ولاړ.

همدې چارې ترکيه په قهر کړې وه. جهان احمد د اکتوبر مياشتې په اتمه د فرانسې له ولسمشر اېمانوېل مکرون سره هم وليدل.

ترکيه د «وای پي جي» په نامه د سوريې ډيموکراټيک ځواک يوه څانګه ترهګره بولي او د جهان احمد او ولسمشر مکرون د ليدنې پر سبا يې د سوريې په شمال کې د کردي وسله والو پر ضد پوځي عمليات پيل کړل.

د ترکيې د بهرنيو چارو وزير په سوريه کې د ترکيې د پوځي عملياتو په اړه د فرانسې د ولسمشر غندنه رد کړې ده او اېمانوېل مکرون يې د ترهګرو پر ملاتړ تورن کړی.

راتلونکي به څنګه وي؟

ترکيه او روسيه د سوريې په شمال کې ګډه ګزمه کوي. د ترکيې عمليات له هغې وروسته وو چې امريکا د سوريې له شماله د کوردانو له ځينو سيمو سرتېري و ايستل.

امريکا په دې برخه کې د ناټو له غړو سره مشوره ونه کړه او ترکيې هم په دغه سيمه کې بيا عمليات پيل کړل.

اوس چې نړۍ په ډراماتيک ډول بدلېږي، دا به د ناټو لپاره سخته وي چې د ۱۹۹۰يمو ز کلونو په څېر د سړې جګړې بری وګټي.

د ناټو مشران د ستراتيژۍ بياکتنې ته اړتيا لري، چې دا ټلواله کومو برخو ته لومړيتوب ورکړي؟ د روسيې له ګواښونو سره څه وکړي؟ د اوځارېدونکې چين په هکله هم ګډه تګلاره لري او که نه؟ او په ۲۱مه پېړۍ کې به يې لومړيتوبونه څه وي؟


## ټاکنو کمېسیون: ډېر ژر به په پاتې ولایتونو کې د رایو د بیاشمېرنې بهیر پیل شي

د ټاکنو خپلواک کمېسیون چارواکو ویلي، له معترضو ټاکنیزو ډلو سره یې پیل شوې خبرې مثبت لور ته روانې دي او ډېر ژر به په پاتې ولایتونو کې هم د رایو د بیاشمېرنې او تفتیش بهیر پیل شي.

خو د عبدالله عبدالله په مشرۍ د ثبات او همپالنې ټیم چې پلویانو یې په اوو ولایتونو کې د دغه بهیر مخه نیولې، ویلي چې د ټاکنو کمېسیون له دوی سره هېڅ ډول خبرې نه دي کړې.

دا په داسې حال کې ده چې دغه ټیم د رایو پر بیاشمېرنې او تفتیش اعتراض لري او په سرپل، جوزجان، بدخشان، تخار، فاریاب، بغلان او پنجشیر کې یې د دغه بهیر مخه نیولې ده.

خو د ټاکنو خپلواک کمېسیون ویاند ذبیح الله سادات ازادي راډیو ته ویلي چې د وروستیو ټاکنیزو لانجو په تړاو له متعرضو ټاکنیزو ډلو سره د کمېسیون خبرې مثبت لور ته روانې دي.



هغه ویلي، د ټاکنو کمېسیون چارواکي هیله من دي چې ډېر ژر په دغو ولایتونو کې د رایو د بیاشمېرنې او څېړنې بهیر پیل شي.

سادات زیاته کړې: «د هغو اوو ولایتونو په اړه چې زموږ ولایتي همکاران د رایو بیاشمېرنې ته نه پرېږدي، له دوی سره زموږ خبرې مثبتې خواته روانې دي او تمه ده چې دوی زموږ همکارانو ته اجازه ورکړي چې په دې ولایتونو کې د رایو د بیاشمېرنې او تفتیش پروسه پیل او پر بنسټ یې لومړنۍ پایلې اعلان شي».

سادات ویلي، ټاکل شوې چې ډېر ژر به د کمېسیون د دارالانشا له لوري د بیاشمېرل شویو رایو په اړه تخنیکي راپور هم د کمېسیون مشرتابه ته وسپارل شي.

خو په ورته وخت کې د عبدالله عبدالله په مشرۍ د ټاکنیزې ډلې ویاند فریدون خوځون ازادي راډیو ته ویلي، د ټاکنو کمېسیون له دوی سره د وروستیو ستونزو په اړه هېڅ ډول خبرې نه دي کړې.

هغه زیاته کړې، څو چې کمېسیون د قانون پر بنسټ عمل ونه کړي، د ثبات او همپالنې ټیم پلویان به اجازه ورنه کړي چې په پاتې اوو ولایتونو کې د رایو بیاشمېرنې بهیر تر سره شي.

خوځون ویلي: «له بده مرغه چې کمېسیون د خبرو اترو لپاره ټولې دروازې تړلې دي او حاضر نه دی چې له موږ سره خبرې وکړي. په داسې حال کې چې موږ حاضر یو چې رامنځ ته شوی کړکېچ د خبرو له لارې حل شي. زموږ تمه دا ده چې کمېسیون د خلکو غوښتنو ته لبیک ووايي او رامنځ ته شوې ستونزه د خبرو له لارې حل کړي او قانون ته رجوع وکړي».

# د طالبانو او امریکایانو په مذاکراتو کې د اختلاف پنځه مهم ټکي

لیکنه: هاشم وحدتیار

طالبان او امریکایان پر پنځو ټکو لا هم اختلاف لري. د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ تېره اونۍ افغانستان ته د خپل ناڅاپي سفر په ترځ کې په بګرام هوایي ډګر کې د خپلو خبرو پر مهال وویل، طالبانو پخوا نه غوښتل چې په افغانستان کې اوربند وشي، خو اوس غواړي چې اوربند وکړي. ولسمشر ټرمپ زیاته کړه، دی باور لري چې له اوربند سره به د سولې پروسه پر مخ ولاړه شي.

بګرام کې د وینا پر مهال ولسمشر ټرمپ له طالبانو سره د خبرو بیا پیلېدو یادونه وکړه او د افغان سولې لپاره د امریکا ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد هم تېره اونۍ په قطر کې د تړلو دروازو شاته له طالبانو سره لیدلي دي.

خلیلزاد له څو میاشتو را پدېخوا په قطر کې د طالبانو له سیاسي دفتر سره پر مذاکراتو بوخت و. دواړو لوریو له نهو پړاوونو وروسته، هوکړه لیک لاسلیک ته چمتو کړ، خو دوې میاشتې مخکې د امریکا ولسمشر ناڅاپه له طالبانو سره د سولې خبرې ودرولې.

خو ولسمشر ټرمپ خلیلزاد ته پرېکنده سپارښتنه کړې چې له طالبانو سره د سولې پروسه ژر تر ژره بشپړه کړي.

که څه هم دواړه خواوې اوس یوې هوکړې ته لېواله دي، خو د دوی تر منځ لا هم ځینې ستونزې شته چې له کبله یې پخوا هم هوکړه ځنډېدلې وه او ښایي په راتلونکو خبرو کې هم پر همدې ټکو اختلاف موجود وي.

راځئ چې په دې لړ کې پنځو مهمو ستونزو ته لنډه کتنه وکړو.

**لومړنۍ ستونزه: د طالبانو خپلمنځي اختلاف**

د طالبانو جنګي قومندانان پر دې باور دي چې د جګړې له لارې بېرته واک تر لاسه کولی شي. په افغانستان کې د طالبانو جنګي کمېسیون او په قطر کې د طالبانو سیاسي دفتر تر منځ اختلافونه شته. د طالبانو وسله وال قومندانان تر ډېره سخت دریځ لري او مذاکراتو ته لېوال نه دي. دوی پر جګړه ټینګار کوي چې په ټول هیواد کې شرعیت پلی او د طالبانو اماراتي نظام بېرته راولي. دوی په دې فکر دي چې امریکایانو ته یې ماتې ورکړې او نړیوال له افغانستانه په وتلو دي.

د ۲۰۱۳ ز کال په پرتله، امریکا خپل سرتېري له څه باندې سلو زرو نه یوازې ۱۲۰۰۰ ته راکم کړي. د امریکا ولسمشر په دې لټه کې دی چې له افغانستانه خپل سرتېري وباسي او د خپل هیواد تر ټولو اوږده جګړه ختمه کړي.

خو په قطر کې د طالبانو سیاسي مشران غواړي چې د مذاکراتو له لارې د افغانستان کشاله حل کړي. په تېر یوه کال کې د طالبانو سیاسي مشرانو بیجېنګ، مسکو، تهران، جاکارتا او اماراتو ته سفرونه کړي دي.

دې سفرونو طالب سیاسي مشران پر دې وپوهول چې په افغانستان کې بې له نړیوالو هم حکومتوالي نه شي کیدای.

همدارنګه له نړیوالو ځانګړو استازو لکه المان او اروپایي اتحادیې سره د طالبانو د سیاسي مشرانو پرله پسې خبرو اترو د دوی په فکر کې بدلون راوستی او دوی اوس غواړي چې له نړۍ سره یو ځای کار وکړي.

د همدې خپلمنځي اختلاف له امله د طالبانو سیاسي مشران له امریکایانو سره په مذاکراتو کې د جنګي کمېسیون تر فشار لاندې دي.

**دویمه ستونزه: له نورو جنګي ډلو سره د طالبانو اړیکي**

د امریکا یوه تر ټولو مهمه غوښتنه دا ده چې طالبان له القاعدې او نورو وسله والو ډلو سره پرېکون وکړي. واشنګټن له طالبانو غواړي چې د القاعدې، لشکر طیبه، لشکر جنګوي، لشکر اسلام او لشکر انصار په څېر له نظامي ډلو سره پرېکون اعلان کړي. خو طالبان دې ډلو ته د «ترهګر» لقب نه مني. په ۲۰۱۷ ز کال کې د امریکا ولسمشر وویل چې په افغانستان او پاکستان کې ۲۰ ترهګرې ډلې فعالیت کوي.

طالبان په دې ډلو کې یوازې له داعش سره اړیکې نه لري او څو ځله یې ورسره سختې جګړې هم کړې دي؛ خو له دې نورو ډلو سره طالبان کومه ستونزه نه لري.

که څه هم طالبانو په دې برخه کې وضاحت ورکړی او ټینګار کوي چې د افغانستان له خاورې به هېچا ته اجازه ورنه کړي چې کوم بل هېواد ته ګواښ پېښ کړي. خو امریکایي چارواکي وېره لري چې طالبان له دې ترهګرو سره اړیکې لري او که امریکایي سرتېري له افغانستانه ووځي، دا هېواد به یو ځل بیا د نړیوالو ترهګرو ځاله وګرځي.

**درېیمه ستونزه: اوربند باید څه وخت او له چا سره وشي؟**

افغان حکومت او امریکایان لومړی اوربند غواړي، خو طالبان وایي، له هوکړې وروسته به یوازې له امریکایانو سره اوربند کوي. د امریکا او افغانستان ولسمشران له طالبانو غواړي چې لومړی اوربند وکړي. دوی غواړي دا خبره مالومه کړي چې طالبان څومره یو موټی دي او د طالبانو د مشرانو پرېکړه به د جګړې په ډګر کې ټولو وسله والو طالبانو ته د منلو وي او که نه. خو طالبان وایي چې اوربند به د هوکړې له لاسلیک کولو وروسته کېږي او هغه هم یوازې له امریکایانو سره اوربند، نه له افغان حکومت سره.

تر دې دمه د طالبانو قوت تر بل هر څه د دې وسله والې ډلې جګړه ده. که طالبان اوربند وکړي، نو له دې ډلې سره بل څه نشته چې په مټ یې د مذاکراتو پر مېز خپله برلاسي ثابته کړي. د اوربند موضوع نه یوازې د امریکایانو او طالبانو تر منځ د اختلاف سبب ده، بلکې د افغان حکومت لپاره هم یوه مهمه موضوع ده.

**څلورمه ستونزه:** د طالبان او افغان حکومت مخامخ خبرې

امریکایان غواړي چې طالبان له افغان حکومت سره مخامخ خبرو ته وهڅوي، خو تر اوسه په دې چاره کې بریالي شوي نه دي.

امریکا غواړي چې طالبان له افغان حکومت سره مخامخ خبرو ته وهڅوي. د افغانستان حکومت د امریکا ستراتیژیک ملګری دی او له ۲۰۰۱ ز کال راهیسې یې میلیاردونه ډالره مرسته ورسره کړې ده. خو طالبان بیا افغان حکومت ته د «کابل اداره» وایي، د امریکا لاسپوڅې یې بولي او د حکومت په توګه یې نه پېژني. طالبان تر دې دمه د خپل همدې سخت دریځ له مخې نه دي چمتو شوي چې له افغان حکومت سره مخامخ خبرې وکړي.

دوی فکر کوي چې که له افغان حکومت سره خبرو ته کېني، د جګړې په ډګر کې به د دوی د قومندانانو روحیه کمزورې شي. له همدې امله طالبان غواړي چې د جګړې ډګر تود وساتي څو په مذاکراتو کې برلاسي ولري.

**پنځمه ستونزه:** له هوکړې وروسته په افغانستان کې د امریکایي پوځیانو حضور.

امریکا غواړي چې له طالبانو سره له هوکړې وروسته هم په افغانستان کې یوڅه پوځیان پرېږدي.

امریکایي چارواکي غواړي چې په افغانستان کې یوڅه پوځیان وساتي چې د سفارت امنیت یې وساتي او د اړتیا پر وخت د ترهګرۍ پر ضد جګړه کې هم برخه واخیستلی شي.

واشنګټن فکر کوي چې طالبان به د دې توان ونه لري چې نورې ترهګرې ډلې په بشپړ ډول له خپلو فعالیتونو را وګرځوي. امریکایان وېره لري چې له طالبانو سره تر هوکړې وروسته هم شونې ده چې د افغانستان له خاورې د امریکا امنیت ته ګواښ پېښ شي. له همدې کبله د امریکا لپاره مهمه ده چې یوڅه پوځیان یې په افغانستان کې پاتې شي.

خو طالبان بیا د ټولو بهرنیو پوځیانو پر وتلو ټینګار کوي او واشنګټن ته ډاډ ورکوي چې د افغانستان له خاورې به د امریکا امنیت ته هېڅ ګواښ نه وي. خو امریکایان د دوی پر ژمنه بشپړ باور نه کوي.

# سوله او د اسیا بنسټ نظر پوښتنه؛

## نږدې نوي سلنه افغانان سوله غواړي او کلک ملاتړ ترې کوي



سره له دې چې لوړه سلنه افغانان د سولې غوښتونکي او ملاتړ دي، خو تازه یوه نظر پوښتنه ښیي چې نږدې ۹۰ سلنه افغانان د سولې قوي ملاتړ کوي. دغه نظر پوښتنه اسیا بنسټ کړې ده او له زرګونو کسانو سره یې د افغانستان په ښارونو او لرې پرتو سیمو کې خبرې کړې دي. نظر پوښتنه همدا راز وایي چې راتلونکې ته د تېر کال په پرتله د خلکو هیله مندي هم ډېره شوې ده.

اسیا بنسټ په یوه نوې نظر پوښتنه کې وایي چې نږدې ۹۰ سلنه افغانان د سولې غوښتونکي دي. د نظر پوښتنې له مخې، لوړه سلنه افغانان همدا راز پر دې باوري دي چې روان مذاکرات به ګټور وي او مثبتې پایلې به ولري. سرچینه کاږي: ((۶۴ سلنه خلک باور لري چې دا مذاکرات پایلې ته رسېدلی شي. همدا راز د راتلونکې په اړه د خلکو هیله مندي هم مخ پر ډېرېدو ده)).

اسیا بنسټ وایي چې په دې نظر پوښتنه کې یې له نږدې ۱۸ زرو کسانو سره چې عمرونه یې له ۱۸ کلونو لوړ دي، مرکې کړې دي. په دوی کې پنځوس سلنه ښځې دي. همدا راز د نظر پوښتنې په ګډونوالو کې ۸۰ سلنه په کلیو او نږدې ۲۰ سلنه یې په ښارونو کې ژوند کوي. د نظر پوښتنې عمده موضوعات، امنیت، ټاکنې، حکومتولي، اقتصاد، لومړني خدمتونه، فساد، ځوانان، له طالبانو سره سوله، رسنیو ته لاسرسی، کډوالي، د ښځو ونډه او د دوی سیاسي مشارکت وو. نظر پوښتنه وایي چې په هېواد کې ۸۸،۵ سلنه افغانان سولې ته لېواله دي او د دې غوښتونکي دي چې د طالبانو او افغان حکومت تر منځ سوله وشي. دوی همدا راز د سولې له خبرو ملاتړ کوي او ټینګار کوي چې افغان جګړه یوازې د خبرو له لارې د حل وړ ده. سولې ته هیله مندي د هېواد په ختیځ کې ۷۶،۹ سلنه، په سویل-لوېدیځو ولایتونو کې بیا ۷۲،۹ سلنه، خو سولې ته تر ټولو لږ هیله په مرکزي ولایتونو کې ده چې کچه یې ۳۸،۷ سلنه ښودل شوې ده.

د نظر پوښتنې له ګډونوالو د سولې د بهیر په اړه د دوی د معلوماتو پوښتنه شوې. شاوخوا ۷۸ سلنه خلکو ویلي چې د سولې د بهیر په اړه پوهېږي او د خپلې اړتیا وړ معلومات لري. شاوخوا نیمو یې ویلي، احساس کوي چې د سولې په خبرو کې د دوی استازولي شوې ده. اسیا بنسټ په خپله دغه ارزونه کې وایي: ((د هغو کسانو شمېر هم ډېر شوی چې غواړي حکومت له سولې سره له یوځای شویو مخالفو وسله والو سره مرسته وکړي. نږدې ۳۴ سلنه خلکو ویلي، حکومت باید هغو کسانو ته د کار موندنې او د اوسېدو ځای د برابرولو په برخه کې مرسته وکړي، چې د سولې بهیر سره یوځای کیږي. خو تېر کال دا شمېر ۲۶ سلنه و)).

د دې پوښتنې په ځواب کې چې په سوله کې کوم شیان باید وساتل شي؛ نږدې ۵۵ سلنه خلکو ویلي، اوسنی اساسي قانون، شاوخوا ۵۴ سلنه کسانو ویلي چې مرکزي پیاوړی حکومت، ۴۶ سلنه د بیان ازادي، ۴۷ سلنه د رسنیو ازادي او شاوخوا ۱۸ سلنه خلکو د بهرنیو ځواکونو د پاتې کېدو غوښتنه هم کړې ده. د دې تر څنګ، نږدې ٦٦ سلنه کسانو ویلي، هغه ولسمشر ته به رایه ورنه کړي چې د ښځو پوهنه او روزنه له خطر سره مخ کړي او شاوخوا ٦٥ سلنه ګډونوالو له کوره بهر د ښځو پر کار کولو ټینګار کړی دی.

اسیا بنسټ همدا راز وایي، روان کال د هغو افغانانو شمېر هم زیات شوی چې فکر کوي هیواد یې سم لور ته روان دی. له ۲۰۱۳ ز کال راهیسې اوسنې وضعیت ته د هیله منو کسانو شمېر په کمساري ډول زیات شوی دی. سږ کال ۳٦،۱ سلنه خلک فکر کوي چې افغانستان سم لور ته روان دی. تېر کال دغه کچه ۳۲،۸ سلنه وه.

اسیا بنسټ داسې مهال د سولې په اړه د خلکو هیله مندي او لوړه غوښتنه ښیي چې همدا اوس هم د افغانستان د سولې مذاکرات له نامعلوم برخلیک سره مخ دي. طالبان ټینګار کوي چې له امریکا سره خبرې پایلې ته رسوي، خو افغان حکومت وایي، یوازې د دوی او طالبانو تر منځ مخامخ خبرې روانه جګړه ختمولی شي.

<u>د لاریونوالو د وژنې تازه شمېرې؛</u>

# د بښنې نړیوال سازمان وایي چې د ایران په وروستیو لاریونونو کې ۲۰۸ کسان وژل شوي دي

د بښنې نړیوال سازمان ویلي، د ایران د وروستیو اعتراضونو د ځپلو پر مهال، د وژل شویو کسانو شمېر له ۲۰۰ تنو اوښتی دی.

دغه سازمان چې مقر یې په برېټانیا کې دی، ویلي چې دوی ته رسېدلي معتبر معلومات ښیي چې د ایران د لاریونونو پر مهال، د وژل شویو کسانو شمېر ۲۰۸ تنو ته رسېدلی دی.

دا په داسې حال کې ده چې دغه اعتراضونه د نومبر په ۱۵مه په ایران کې د تېلو د بیو د لوړېدو له کبله راپورته شول، خو ډېر ژر د هغه هېواد د امنیتي ځواکونو له خوا وځپل شول او انټرنېټي خدمات هم د یوې اونۍ لپاره پرې بند شول. د بښنې نړیوال سازمان ویلي چې ډېری کسان په شهریار ښار کې وژل شوي دي. د یادونې ده چې تر دې وړاندې دغه سازمان د وژل شویو شمېر ۱٦۱ تنه ښودلی و.

د یاد سازمان د منځنې ختیځ د چارو د څېړنو د برخې مسوول فیلیپ لوتر د وژل شویو شمېره د ایران د ځواکونو له لوري د وحشتناکو وژنو ثبوت بللی او له نړیوالې ټولنې یې غوښتې چې پر عاملینو یې عدالت تطبیق شي. وروسته له هغې چې ایراني ځواکونو د اعتراض کوونکو پر وړاندې ځپوونکي اقدامات پیل کړل، ورسره سم یې په نړیواله کچه جدي غبرګونونه راوپارول. ځینو ایرانیانو له هېواده بهر لاریونونه وکړل او د ایران خلکو ته د پاملرنې غوښتنه یې وکړه. حسن حبیبي په فرانسه کې یو ایرانی وګړی دی چې ورمه ورځ یې په پاریس کې په همدې اړه د لاریون پر مهال وویل: «مونږ له نړیوالې ټولنې او د فرانسې له حکومته غواړو، چې له هغو کسانو سره مرسته وکړي چې ژوند یې له خطر سره مخ دی، پر هغو ایرانیانو چې سړکونو ته راوتلي، د ایران د رژیم پر وړاندې د اعتراض له کبله، ظلمونه ورباندې کېږي».

ایمنېسټي انټرنېشنل ویلي، ډېری ویډیوګانې چې د دغه سازمان د څېړونکو له خوا باوري ګڼل شوې، ښیي چې امنیتي ځواکونه پر بې وسلو لاریون کوونکو ډزې کوي.

دغه سازمان زیاته کړې، دوی ته رسېدلي معلومات دا هم په ډاګه کوي چې د قربانیانو کورنیو ته ګواښ شوی چې له رسنیو سره خبرې ونه کړي.

د یاد سازمان په خبره، حتی ویل شوي چې ځینې کورنۍ د خپلو عزیزانو د مړو تر لاسه کولو لپاره د پیسو ورکولو ته اړ شوې دي.

په ورته وخت کې د ایران د قضایه قوې ویاند غلام حسین اسماعیلي ویلي چې په دغه هېواد کې د وروستیو اعتراضونو پر مهال، د وژل شویو کسانو په شمېر کې په بېساري توګه دروغ ویل شوي او ډېری هغه کسان چې مړه اعلان شوي وو، ژوندي دي. اسماعیلي زیاته کړې، دی دا نه وایي چې په وروستیو اعتراضونو کې خلک نه دي وژل شوي، خو په خبره یې، شمېر یې هغومره نه دی، څومره یې چې په اړه راپورونه ورکول کېږي. نوموړي دغه راز ویلي، په دې لاریونونو کې ځینې خلک مړه شوي چې د دوی د معلوماتو له مخې، هغوی هم د امنیتي ځواکونو د ډزو له امله نه، بلکې د مسمومیت له امله مړه شوي دي.

## د کتـــاب خبـرې

# پښتانه

## د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله


◎ لیکوال: ابوبکر صدیق
◎ ژباړن: اقامحمد قریشي

دریېمه برخه

افغانستان

### نهم څپرکی

### په لویه پکتیا کې قومونه، کمونېستان او د جهاد نسل



کمونېستان خپلې تېروتنې مني، خو هغوی د مجاهدینو او طالبانو تېروتنې او خامیانې هم بیانوي چې هغوی هم تر بهرنیو قدرتونو پورې تړلي وو، د شخصي ګټو پر سر به یې له یو بل سره مخالفت کاوه چې په پایله کې هغوی هم پر پرلپسې سیالیو، مخالفت او ایډیولوژیکو کش مکشونو واوښتل. د کمونېست رژیم د دفاع وزیر شهنواز تڼی چې د لویې پکتیا په اړینو نظامي عملیاتو کې یې ونډه لرله، پر جلال الدین حقاني نیوکه کوي چې د اکثرو خونړیو پېښو مسئولیت د هغه پر اوږو و. هغه وایي له جلال الدین حقاني سره د پاکستان بشپړ ملاتړ و، ځکه یې په جګړه کې جګړه مار تر نورو بریالي وو. تڼی په دې باور هم دی چې په فاټا کې د جګړه مارو پټنځایونه هم د دې سبب شول چې لویه پکتیا کې هغوی ته جګړه اسانه کړي. هغه په دې اند دی چې په فاټا کې د طالبانو شتون په دې سیمه کې د سولې مخه ډب کړې ده.

سلېمان لایق چې د پرچمیانو له ډلې و، د کمونېستي رژیم د قومونو او قبایلو چارو وزیر و، هغه په لویه پکتیا او د پښتنو په نورو سیمو کې د ملایانو د رول له بدلون سره ورته بدلونونه تړلي بولي. هغه لیکي چې ملایان یو وخت د ټولنې په ټیټ پاړکي کې وو، هغوی رهبرۍ ته د خپلې کاریزما، تقوا او شهرت پر بنسټ نه دي رسېدلي، بلکې، وسلو، سرچینو او بهرني ملاتړ ته د لاسرسي پر بنسټ واک ته ورسېدل.

وروسته له هغه چې د طالبانو حکومت ړنګ شو، له لویې پکتیا څخه په حکومت کې د کمونېستانو ونډه ډېره کمرنګه وه. په کابل کې د مجاهدینو له ډلو پر جوړ حکومت باید فشارونه وي چې دوی باید د امنیت لپاره مسلکي کسان وګماري. حکومت ته د هغوی راتګ له مخالفتونو سره مخ شو. کله چې لویه پکتیا کې امنیت ګډوډ شو، له ځایي خلکو څخه یې ډېرو په نظامي ځواکونو کې ونډه واخیسته.

**د وینې په بیه جهاد**

په لویه پکتیا کې ډېرې لویې کورنۍ له طالبانو سره یو ځای شوې، له دې سره جوته شوه چې د پاکستان د ستراتیژیکو ګټو لپاره لا د هغوی د پښې اېښودلو ځای شته. د دې کورنیو ځوانان د سخت دریځو اسلامپالو په لیکو کې هم جنګېږي. مولوي جلال الدین له خپلو دوستانو او پلویانو سره د حقاني په نوم شبکه جوړه کړه.

حقاني په ۱۹۹۵ز کال له طالبانو سره یو ځای شو او د کابل په نیولو کې یې له هغوی سره مرسته وکړه. د ۱۹۹۷ز کال په جنوري میاشت په اسلام‌اباد کې، د امریکا سفارت په یوه دیپلوماتیک پیغام کې لیکلي وچې حقاني د طالبانو په پرتله ازاد فکره دی، د مېرمنو د ازادۍ په اړه د هغوی په څېر اند نه لري. په دې پیغام کې لیکل شوي وو چې حقاني د طالبانو پر ټولنیزو او سیاسي مسائلو اغېز نه لاره، خو د هغوی په نظامي چارو کې ډېر ښکېل و. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت له عرب افراطیانو سره د حقاني پر اړیکو اندېښمن و، دوی پوه شوي وو چې حقاني ورته د پېسو او وسلو په بدل کې پټنځایونه ورکوي. څنګه چې مو مخکې اشاره وکړه، له لویې پکتیا څخه په شمالي وزیرستان کې په ۲۰۰۱ او ۲۰۰۲ز کلونو کې امریکایي ځواکونو د حقاني پر نظامي اډې بریدونه ونه کړل. د یوه افغان قانون پوه پر وینا، دې کورنۍ غوښتل چې له نوي جوړ شوي افغان حکومت سره یو ځای شي، خو د هغوی ځایي مخالف پاچاخان ځدراڼ یې مخالفت وکړ، ان د حقاني ځینې پلویان او قومي مخور کابل ته پر لاره وو چې د حکومت په کومه غونډه کې ګډون وکړي، امریکایان هڅول شوي وو چې پر هغوی هوایي برید وکړي. ځایي خلک وایي، حقاني نه غوښتل له خپل پلرني ټاټوبي لاړ شي، خو د امریکایانو تر دوو بریدونو وروسته اړ شو چې نور دا سیمه پرېږدي. کله چې خپله حقاني له ګردېز څخه خوست ته سفر کاوه، پر لاره برید کې ژوبل شوی و. تر ۲۰۰٦ز کال وړاندې حقاني په شمالي وزیرستان کې خپله جګړه ماره ډله چمتو کړې وه.

شبکې د خپلو اړیکو او ځایي تماسونو پر لاس ډېر ژر په لویه پکتیا کې بیا ځای پیدا کړ. د ځدراڼو قوم په پکتیا، خوست او پکتیکا ولایتونو کې مېشت دی. دې شبکې د خپلو اړیکو او نفوذ له لارې ډېر ژر کابل او د افغانستان شمال ته ځان ورساوه.

د افغانستان په سویل کې د طالبانو مشران د دې حرکت د سیاسي چارو د ملا د تیر په توګه وو، خو کله چې په ۲۰۰۵ز کال جګړه لا پسې تونده شوه، حقاني شبکه په نظامي توګه د طالبانو د تحریک تر ټولو پیاوړې ډله وه چې څه باندې ۱۵۰۰۰ سرتېري یې لرل. د حقاني نظامي شبکې ډېرې نظامي عملیات د جلال الدین حقاني مشر زوی سراج الدین حقاني له لوري رهبري کېدل، نوموړي ته به خپلو پلویانو په ساده ژبه سراج یا خلیفه وایه. د هغه په مشرۍ کې دا ډله له یوې خوا پیاوړې شوه له بلې خوا یې له نړیوالو جهادیانو سره ښې اړیکې پیدا کړې. د حقاني شبکې په کابل کې د بریدونو ترسره کولو توان هم لاره. له ۲۰۰۸ز کال څخه به دې شبکې په کابل کې د ځانمرګو بریدونو په واسطه اړین حکومتي، د نړیوالې ټولنې او دیپلوماتیکو دستګاوو دفترونه په نښه کول، ځانمرګي به له وژل کېدو او یا پر ځان د تړلو چاودېدونو توکو له چاودنې وړاندې سخته او اوږده جګړه کوله. دې بریدونو به نه یوازې لوی زیانونه اړول، بلکې د نړیوالې ټولنې پاملرنه به یې هم ځان ته را اړوله. دې تاکتیکونو د جګړې پر تړاو د افغانانو او بهرنیانو پر ماغزو ډېرې رواني اغېزې ښندلې وي. **دوام لري...**


# سل څېرې سل تجربې

◀ اکسوس کتابپلورنځی

ژوند دومره اوږد نه دی چې هر څه په خپله پکې تجربه کړو او نه هم د ځینو شیانو تجربه کول د وخت پر ضایع کولو ارزي. که موږ د هرڅه تجربې کولو ته وخت ورکړو، هغه ده چې ټول ژوند به مو یوازې په تجربو کولو کې تېر شوی وي او دا هم ومنئ چې هرڅه هم په تجربه کولو نه ارزي. باید د نورو له تجربو هم ګټه واخلو. ځینې بیا داسې کړنې او فعالیتونه دي چې تجربه کول یې ډېر وخت غواړي، که موږ غواړو چې وخت مو ښه مدیریت کړو او له هغه ډېره ګټه واخلو، ښه دا ده چې د هماغه کار او فعالیت په اړه د نورو له تجربو او تر لاسه شوو پایلو څخه ګټه واخلو. هر هغه څه چې نورو په ځلونو تجربه کړي وي، مجبور نه یو چې هرو مرو هغه موږ هم تجربه کړو، څه چې نورو تجربه کړي وي او پایلې یې په ډاګه شوې وي، ښه ده چې موږ یې د تجربې پر ځای له پایلې درس واخلو، په دې سره به مو یو وخت سپما شوی وي او بل به مو د بریا او پرمختګ لپاره ترې د ښه څراغ ګټه هم اخیستې وي.

د کتاب ژباړن حسیب الرحمن نورمل وایي، دا ځل مې هڅه کړې چې د نړۍ د مشهورو پوهانو، فیلسوفانو، شاعرانو، لیکوالانو، سیاسي رهبرانو، میلیاردرانو(شتمنو) او بریالیو څېرو د ژوند تجربې او اغېزناکې وېناوې را ټولې او د یو کتاب په بڼه یې چاپ کړم، څو لوستونکي خپلو نبکو هیلو ته د رسېدو پر لار ترې استفاده وکړي او خپلو هیلو ته ورسېږي. مشران تل د خپلو تجربو پر بنسټ خبرې کوي، هغوی دا را زده کوي چې څنګه خپلو موخو ته رسېدلي دي، که موږ هم د هغوی لار تعقیب کړو او پر لارښوونو یې عمل وکړو، لرې به نه وي چې موږ به هم یو وخت د دوی په څېر بریالي او اغېزناک کسان شو.

ژوند د تجربو مزل دی، هر قدم اخیستل یې له ځان سره نوې نوې تجربه لري؛ خو ډېر کم کسان دي چې د دې تجربو له پایلو درس اخلي.



د کتاب ژباړن وایي، موږ تر ډېره په دې کتاب کې د هغو کسانو تجربې راوړې دي، چې د ژوند په اړه یې له هغوی ښه درس اخیستی دی او هم یې نورو ته د عملي کولو سپارښتنه کړې ده.

تجربې انسان کلک اموخته کوي او له پایلو درس اخیستل یې بیا انسان ته د ژوند کولو لار ښیي.

مینه وال کولای شي یاد کتاب پر اکسوس سربېره، د ښار په نورو لویو کتابپلورنځیو کې هم په مناسب قېمت تر لاسه کړي.

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال / ژباړن | بیه |
|---|---|---|---|
| | **روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه** | | |
| ١ | Basic grammar in use 4th Edtion | CAMBRIDGE | ١٥٠؋ |
| ٢ | Grammar in use Intermediate Fourth Edition | | ٢٣٠؋ |
| ٣ | English Grammar in use Fifth Edition | | ٢٣٠؋ |
| ٤ | Advanced Grsmmar In Use | | ٢٥٠؋ |
| ٥ | Black Milk on motherhood and Writing | Elif Shafak | ١٧٠؋ |
| ٦ | The Forty Rules Of Love | | ٢٣٠؋ |
| ٧ | The Flea Palace | | ٣٠٠؋ |
| ٨ | The Architect's apprentice | | ٢٧٠؋ |
| ٩ | Sea Prayer | Khaled Hosseini | ١٠٠؋ |
| ١٠ | The Kite Runner | | ٢٥٠؋ |
| ١١ | AND THE MOVNTAINS ECHOED | | ٢٠٠؋ |
| ١٢ | A THOUSAND SPLENDID SUNS | | ٢٥٠؋ |
| ١٣ | After You | Jojo Moyes | ٣٠٠؋ |
| ١٤ | The Girl You Left BeHind | | ٣٠٠؋ |
| ١٥ | Still Me | | ٢٧٠؋ |
| ١٦ | Me Before You | | ٢٢٠؋ |
| ١٧ | Paris For one | | ٢٥٠؋ |
| ١٨ | Foreign Fruit | | ٣٠٠؋ |
| ١٩ | د ازادۍ نارې او د مغلګۍ غمیزه | سخي سرور میاخیل | ١٢٠؋ |
| ٢٠ | د پرمختګ پیل (په ٩٠ ورځو کې مو ژوند بدل کړئ) | جان مکسوېل | ١٣٠؋ |
| ٢١ | سل څېرې سل تجربې | حسیب الرحمن نورمل | ١٠٠؋ |
| ٢٢ | ناروغ (ناول ) | مومند اڅر | ٧٠؋ |
| ٢٣ | څنګه دوستان پیدا کړئ او پر نورو نفوذ ولرئ | ډیل کارنیګي | ١٧٠؋ |
| ٢٤ | ته چې ومرې څوک به ژاړي؟( د ژوند درسونه) | روبېن شرما | ١٣٠؋ |
| ٢٥ | د رهبرۍ اخلاق (څنګه کاروباري مشري وکړو ) | جان مکسوېل | ١٠٠؋ |
| ٢٦ | عریضه لیکنه( د عریضې لیکنې مهارتونه زده کړئ ) | رسول ګل آشنا | ٩٠؋ |
| ٢٧ | ملغلرې خبرې (د نړۍ د مخکښو سوداګرو او فیلسوفانو د بریا او ژوند کیسې) | ګلاب بهار | ١٠٠؋ |
| ٢٨ | ژوند ته بدلون ورکړئ | نور الله سلطان زوی | ٧٠؋ |
| ٢٩ | ژوند وکړه ( مه وایه له ژوند ستړی یم،ووایه باید خوښ واوسم) | عبید موسم | ٧٠؋ |
| ٣٠ | ناروغی او د هغې نسخې | ډاکټر عنایت الله شینواری | ١٠٠؋ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ    اړیکه: 9696-98-0798 - 0202504652

همیانی

# غواړی شتمن شی او شتمن پاتې شی؟

ژباړه: حمیدالله حمیدي

د شتمن کېدو لپاره هر څوک خپلې تګلارې لري او هڅه کوي چې په يو ډول نه يو ډول شتمن شي. ځينې د چانس له لارې شتمن کيږي او ځينې نور بيا د سخت کار او زيار له کبله خپل ورځنی عوايد لوړوي او شتمن کيږي. خو معمولاً شتمن کسان ځينې شريک عادتونه لري. ولې ځينې کسان تر مرګه شتمن پاتې کيږي او ځينې نور بيا په يوه ګوله ډوډۍ پسې سرګردانه وي؟ دا هغه پوښتنه ده چې زموږ ټولو ذهنونه يې مغشوش کړي دي.

که غواړی چې بريالي شی، شتمن شی او شتمن پاتې شی، نو دغه موارد عملي کړئ.

**لومړی: پر چانس تکيه مه کوئ!**

د دې لپاره چې شتمن شی او شتمن پاتې شی، ډېر لږ پر چانس او بخت تکيه وکړئ. شتمن خلک پر دې باور دي، چې د ژوند لوری يې بايد خپله وټاکي. څېړنو ثابته کړې چې ۹۰ سلنه خلک د خپلې بدبختۍ اصلي لامل خپل تندی او بخت بولي، خو داسې نه ده. راتلونکې مو په خپل لاس کې ده څه ډول چې وغواړی برابرولی يې شی. دغه کسان د ښه، بريالي او ارام ژوند درلودلو لپاره د دې پر ځای چې خپلې پيسې پر زده کړو او تحصيل ولګوي، خپل بخت پرې ازمويي او بې ځايه يې لګوي. نو که غواړی شتمن شی او شتمن پاتې شی، پر زده کړو مو پانګونه وکړئ.

**دويم: له دندې سره مو مينه وکړئ!**

۸۵ سلنه هغه خلک چې په خپل کارو بار او مسلک کې بريالي دي، له خپلې دندې سره مينه لري. بر عکس هغه کسان چې له بې وزلۍ ځوريږي، له خپلې دندې بدې ورځې کوي او يوازې منفي اړخونه يې بيانوي. دوی له ځان سره وايي، هېڅ وخت به له دې دندې شتمن نه شم. که مو دنده خوښه نه وي، بدله يې کړئ، خو! له دندې مو بدې ورځې مه کوئ! که مو دنده بدلولای هم نه شی، هڅه وکړئ چې مثبت اړخونه يې بيان کړئ.

**دريیم: روغتيا ته مو ارزښت ورکړئ!**

شتمن کسان ډېر وخت خپلې روغتيا ته ځانګړې کوي. دوی په منظم ډول خپل ډاکټر ته مراجع کوي، د ژوند کولو سمه بڼه يې غوره کړې وي، د ورزش له ګټو خبر وي او د ښې روغتيا لپاره يې ورزش کوي. په زړه پورې خو دا ده چې ۷٦ سلنه شتمن خلک په اونۍ کې څلور ورځې ورزش کوي. متعادل غذايي رژيم لري او توانېدلي چې خپل بد عادتونه پرېږدي. خو ۱۳ سلنه نېستمن کسان په دې اند دي چې روغتيا او شتمني له يو بل سره اړيکه لري.

**څلورم: ريسک (خطر) پر ځان ومنئ!**

يوازې شپږ سلنه نېستمن کسان تيار دي چې د خپل مالي ژوند د ښه کولو لپاره پر ځان خطر ومني. په داسې حال کې چې په شتمنو کسانو کې د خطر منلو دغه کچه له پنځوس سلنې لوړه ده. ډېری شتمنو کسانو په ژوند کې داسې خطر پر ځان منلی چې ان د سترې ماتې لامل يې شوی او يا يې هم ماتې ته نږدې کړي دي. دوی د دې پر ځای چې ماتې ومني، حللارې يې ورته پيدا کړې دي او په برياليتوب ترې را وتلي دي. په ياد به مو وي، که مو له خپلو تېروتنو درس واخيست او بيا بيا مو تکرار نه کړې، په اصل کې مو يوه لويه ماتې پر بريا بدله کړې ده.

**پنځم: په ټلوېزيوني خپرونو پورې زړه مه تړئ!**

هغه کسان چې خپلې شتمنۍ نه شي ساتلی او يا هم نه شي شتمن کېدای، دوی ۷۸ سلنه خپل ژوند پر هغو ټلوېزيوني خپرونو پورې تړلی دی، چې د نورو خلکو خصوصي ژوند پکې څېړل کيږي او يا هم هسې بوختوونکي سريالونه پکې خپرېږي. خو يوازې شپږ سلنه شتمن خلک خپل وخت په دې ډول پروګرامونو نه تېروي، کېدای شي په ټوله ورځ کې يو ساعت ټلوېزيون وګوري. دغه ډول د انټرنېټ په برخه کې هم. دوی په ټوله ورځ کې يو ځل مجازي نړۍ ته سر ورښکاره کوي او کېدای شي په ټوله ورځ کې يو ساعت انټرنېټ وکاروي، خو که يې کار پر انټرنېټ پورې تړلی وي، بيا يې دا د کار يوه برخه بلل کېدای شي.

**شپږم: مطالعه وکړئ!**

هغه کسان چې نن شتمن دي، مطالعه يې د ژوند يوه برخه وه او لا هم ده. داستايفسکي وايي، د مطالعې نه کول په دې مانا دي، چې تاسو اصلاً فکر نه کوی. ۸۸ سلنه شتمن خلک له دې خبرې سره همغږي دي. دوی د ورځې نيم ساعت د خپل کار اړوند، فردي وړتيا، تاريخ او ادبياتو په برخه کې مطالعه کوي. خو د کمو عوايدو لرونکي کسان يوازې ۲ سلنه يې دغه کار کوي. له نېستمن څخه زموږ موخه هغه کسان دي چې د عوايدو کچه يې ټيټه ده. ډېری کسان په کاپي اندازه عوايد لري، خو کله چې خبره کتاب ته ورسېږي، بيا يې جېب خالي وي. هڅه وکړئ چې مطالعه خپل عادت وګرځوی.

**اووم: سهار وختي پاڅېږئ!**

تر نيمايي زيات هغه کسان چې نن سبا د ښه کار او کسب خاوندان دي، درې ساعته له نورو مخکې پاڅېږي. دوی خپل دغه درې ساعته وخت ورزش، د ورځنيو پروګرامونو په اړه فکر کولو او دندې ته د تلو لپاره ځان برابرولو ته ورکوي. بريالي خلک لږ تر لږه د ورځې له لسو تر پنځلسو دقيقو پورې وخت مراقبې ته ځانګړې کوي او په آرام ذهن فکر کوي.

د دوی سهار وختي پورته کېدل په دې مانا نه دي، چې خوب نه ورځي، بلکې ۸۹ سلنه شتمن خلک په کاپي اندازه خوب لري، د شپې نهه يا لس بجې ويده کيږي او د شپې اووه يا اته ساعته خوب کوي.

**اتم: له منفي فکره خلکو لرې اوسئ!**

وروستيو څېړنو ښودلې ده، ۹٦ سلنه هغه خلک چې کار و بار يې پرمختګ نه کوي، ضرور په څنګ کې داسې يو ملګری لري، چې له ژونده شکايت کوي او يا هم د شايعاتو له خپرولو سره مينه لري. خو بريالي خلک، بيا له داسې کسانو سره ملګرتيا کوي، چې تل مثبت فکر کوي او الهام ښوونکي وي. هڅه وکړئ چې د همدې ډول الهام ښوونکو او نوښتګرو ملګرو په لټه کې شی، بيا وګورئ چې ژوند مو څه ډول بدلون کوي.


بريالي کسان په اسانۍ نه دي بريالي شوي، بلکې له ډېر زيار او هڅې وروسته دې ځای ته رسېدلي دي.

په ياد به مو وي، مثبت فکر د دې پر ځای چې شرايط تاسو تر خپلې اغېزې لاندې راولي، تاسو به پر شرايطو واکمنوي.

نو مثبت فکر وکړئ!

بريالي اوسئ!

## د جرمني دفاع وزيره: راتلونکی افغان حکومت بايد د سولې خبرې لا پياوړې کړي



د جرمني دفاع وزيرې انيګرت کرمپ کارينبارو ويلي، هيله لري چې د افغانستان د ولسمشريزو ټاکنو پايلې ژر تر ژره اعلان شي.

کارينبارو تېره ورځ افغانستان ته د سفر پر مهال له ولسمشر غني سره يو ګډ خبري کنفرانس ته په وينا کې هيله وښوده، چې د يادو ټاکنو پايلې به ټولو نوماندانو ته د منلو وړ وي.

هغې زياته کړې: «موږ هيله لرو چې د ټاکنو پايلې داسې اعلان شي چې ټول سياسي اړخونه ورسره موافق وي».

نوموړې دغه راز هيله ښودلې چې د ټاکنو د پايلو تر اعلان وروسته، داسې يو حکومت رامنځ ته شي چې د سولې خبرو روان بهير نور هم پياوړی کړي.

د جرمني دفاع وزيره داسې مهال د افغانستان د ولسمشريزو ټاکنو د پايلو د اعلان غوښتنه کوي، چې دغه پايلې له تېرو شاوخوا دوو مياشتو راپدېخوا لا هم نه دي اعلان شوې او په اوو ولايتونو کې د ټاکنو کمېسيون ولايتي دفترونه د اعتراض کوونکو له خوا تړل شوي دي.

د يادونې ده چې د جرمني دفاع وزيرې لومړی په بلخ ولايت کې له خپلو مېشتو سرتېرو سره وليدل او وروسته يې کابل ته سفر وکړ.

کارينبارو زياته کړې چې جرمني د سولې په اړه د افغان حکومت له هڅو ملاتړ کوي.

دا په داسې حال کې ده، چې روان کال د جرمني او قطر په کوربه توب په دوحه کې د افغان سولې په اړه بين الافغاني مذاکرات تر سره شول.

ولسمشر غني هم دغه کنفرانس ته په وينا کې د افغان سولې په برخه کې د جرمني هڅې اغېزمنې وبللې او د دغه هېواد مرستې يې وستايلې.

په ورته وخت کې ويل کېږي چې د چين څنډېدلې بين الافغاني غونډه هم ښايي د جرمني په برلېن ښار کې وشي، خو تر دې دمه هېڅ رسمي سرچينې هم دغه خبره نه ده تاييد کړې.

## د چين نوی سفير: د افغانانو په مشرۍ د سولې له پروسې ملاتړ کوو



په کابل کې د چين نوي سفير «وانګ يو» له خبريالانو سره په ناسته کې د افغانانو په مشرۍ د سولې له پروسې د خپل هېواد پر ملاتړ ټينګار وکړ.

نوموړي تېره ورځ په کابل کې له خبريالانو سره په ګډه ناسته کې دغه راز خوښي څرګنده کړه، چې په افغانستان کې د چين د نوي سفير په توګه ګومارل شوی او هيله يې وښوده چې په افغانستان کې روان کړکېچ او ناوتريخوالی له سوله ييزو لارو پای ته ورسېږي.

د نوموړي په خبره، په افغانستان کې روان ناوتريخوالی او جګړې د هېچا په ګټه نه دي او يوازينۍ لار چې افغانان له روان بحران څخه ژغورلی شي، د سولې خبرې دي.

هغه دغه راز زياته کړه چې هېواد يې د نړۍ د دويم لوی اقتصادي ځواک په توګه تيار دی چې له افغانستان سره د بيارغونې په برخه کې هم خپلو مرستو ته دوام ورکړي. د وانګ يو په خبره، سره له دې چې لاهم تر ۲۰ ميليونو زيات چينايان د بېوزلۍ تر کرښې لاندې ژوند کوي، خو دوی له دې سره سره، ژمن دي چې له خپلو افغان دوستانو سره په دې سختو شرايطو کې مرسته وکړي، څو يوې پايدارې سولې او ټيکاو ته ورسېږي.

په کابل کې د چين سفير دغه راز وويل چې هېواد يې له افغانستان سره پر دوو اړخيزو همکاريو ولاړې اړيکې لري او هېڅکله هم د افغانستان په کورنيو چارو کې د لاسوهنې هڅه نه کوي. د هغه په خبره، په کابل کې د چين د سفير په توګه له ټاکل کېدو څخه يې نږدې نيمه مياشت تېرېږي، چې په دې موده کې يې له ډېرو افغانانو سره له نږدې ليدلي چې د چين په اړه يې ښه نظر درلود او هغه يې د افغانستان د ښه ګاونډي په توګه ياداوه.

نوموړي يو ځل بيا ټينګار وکړ چې هېواد يې تيار دی چې د افغانانو تر منځ د روانې جګړې د پای ته رسېدو لپاره د بين الافغاني ناستې کوربه توب وکړي.

## اقتصاد

### د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸,۹۰ |
| € | ۸۷ |
| Rp. | ٤۹۹ |
| ₹ | ۱۱۰۰ |
| ¥ | ۱۱,۳۰ |
| £ | ۱۰۱,۲۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبۍ | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بيړنۍ شميرې

پوليس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزير محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسير ورځپانه

**مسوول مدير:** اسدالله وحيدي
**مرستيال:** شفيق اميرزی
**ایډېټران:** جواد تيموري او امان الله حنيفي
**ليکوالان:** اېمل خان، نذير احمد سهار او شفيق همدرد
**خبريالان:** حميدالله حميدي، حکمت آرين او حشمت الله نوري
**ګرافيک او ډيزاين:** ارمان
**چاپخونه:** وايګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦ ۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

المبارک
توریستي شرکت
المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی!

0780 600 400, 0786 55 55 92
0786 55 55 93, 0777 77 78 55
کابل د میوند جادې وروستی برخه، خوست تاور، لومړی پوړ.

Maseer Daily
New Vision, New Journey
چهارشنبه د ۱۳۹۸ د لیندی ۱۳مه | د ۲۰۱۹ د ډسمبر خلورمه | ۴۷٤یمه ګڼه
www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۳ | ۲۱ | ۲۰ | ۱۸ | ۲۷ | ۱۹ |
| ۰ | ۷ | ۳ | ٤ | ۷ | ٥ |

شرعي وختونه: سهار ۰٥:۱٥ | لمر ختل ۰٦:٤۳ | ماسپښین ۱۱:٤٤ | مازیګر ۰۲:۲٥ | ماښام ۰٤:٤۳ | ماخوستن ۰٦:۱۲

## نړۍ




د لاریونوالو د وژنې تازه شمېرې؛

# د بښنې نړیوال سازمان ویلي چې د ایران په وروستیو لاریونونو کې ۲۰۸ کسان وژل شوي دي

۳

## پوتین: ناټو سازمان د روسیې پر وړاندې لوی ګواښ دی



د فارس خبري اژانس د راپور له مخې، د روسیې ولسمشر ویلادیمیر پوتین ویلي چې د ناټو سازمان پراختیا د روسیې لپاره لوی ګواښ دی.
هغه دغه راز زیاته کړې، که د یاد سازمان غړي هېوادونه پر خپل اوسني دریځ له سره غور وکړي او د مسکو پر وړاندې له پاروونکو اقداماتو لاس واخلي، دوی تیار دي چې له ناټو سره همکاري وکړي.
هغه زیاته کړې: «له کله چې شوروي اتحاد ړنګ شو، ناټو د پراختیا په حال کې ده، خو دغه سازمان که له اوسنیو پارووونکو اقداماتو لاس واخلي، مسکو تیار دی چې مرسته ورسره وکړي».
هغه دغه راز زیاته کړې چې روسیې څو ځلې له ناټو سازمان سره د همکارۍ لپاره خپله لېوالتیا ښودلې، خو دغه سازمان بیا برعکس پر پارووونکو اقداماتو لاس پورې کړی دی.
د پوتین په خبره، مسکو تر ۲۰۰۸ ز کال پورې هڅه کوله چې له دغه سازمان سره مرسته وکړي، خو د هغه په خبره، پر یاد سازمان تر بې باوره کېدو وروسته له خپلې دغې پرېکړې په شا شول.
هغه دغه راز ویلي چې د ناټو اوسنۍ پراختیا تر ټولو زیاته روسیې ته ګواښوونکې ده او زیاته کړې یې ده چې مسکو به دغه څه ته لاس تر زنې پاتې نه شي.
د یادونې ده چې د ناټو سازمان ۷۰یمه کلیزه په لندن کې د دغه سازمان د غړو هېوادونو له لوري له تېرې ورځې راهیسې نمانځل کېږي چې د ولسمشر ټرمپ په ګډون، د نړۍ ډېرو مشرانو پکې ګډون کړی دی.

## راپورونه: د سوریې په ادلیب ښار کې په تازه بمباریو کې ۳۳ کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې ده



د راپورونو له مخې، د سوریې د ادلیب ښار په بېلابېلو سیمو کې د سوریې او روسیې د جنګي جېټ الوتکو په هوایي بریدونو کې ۱٥ ملکیان وژل شوي دي.
په سوریه کې د بشري حقونو د څار لندن مېشتې ډلې د دې راپورو د پخلي تر څنګ ویلي، چې په دغو بمباریو کې ډېر نور کسان ټپیان شوي هم دي.
دغې ډلې ویلي، ۱۳ کسان د ادلیب د معره النعمان سیمې په یوه عام مارکېټ کې وژلي شوي دي.
دا سیمه له ترکیې سره پوله لري او ډېرې برخې یې د مخالفو ځواکونو په کنټرول کې دي.
د بشري حقونو د څار ډلې زیاته کړې چې په دې پېښه کې ۱۸ نور کسان ټپیان شوي چې د ډېرو روغتیایي حالت خراب ښودل شوی دی.
همدې ډلې ویلي چې دوه نور کسان یو د ادلیب په جنوب-ختیځ سراقب سیمې او بل په السرمان کلي کې وژل شوي دي.
د دې ډلې مشر رامي عبدالرحمن ویلي چې روسي الوتکو د ادلیب په جنوب کې د کفر سجنه کلي ځینې برخې هم بمبار کړې دي.
بلخوا د روسیې دفاع وزارت ویلي، د ډسمبر په دویمه د دوی دری پولیس افسران په کوباني ښار کې د سړک غاړې د ماین په چاودنه کې ټپیان شوي دي.
د یادونې ده چې روسیه د سوریې په کورنیو جګړو کې چې له ۲۰۱۱ ز کاله پیل شوې، د ولسمشر بشارالاسد د حکومت ملاتړ کوي.


## مسئولان: آمار معلولان در صفوف نیروهای افغان در هرات ۳۰ درصد افزایش یافته است



همزمان با (۱۲ قوس) روز جهانی معلولین، مسئولان محلی هرات می‌گویند، آمار معلولان در صفوف نیروهای افغان در هرات ۳۰ درصد افزایش یافته است.
همچنان معلولان جنگی در هرات حکومت را در راستای حمایت‌شان به بی‌پروایی متهم می‌کنند.
عبدالقدیر در حدود پنج سال به عنوان سرباز قطعه خاص کماندو وظیفه اجرا کرده بود، اما پس از برخورد مرمی به پایش، حالا با عصا راه می‌رود.
این سرباز پیشین کماندو، اکنون با هفت هزار معاش تقاعدی، به دشواری زندگی‌اش را سپری می‌کند. او حکومت را به بی‌پروایی در راستای حمایت از معلولان جنگی متهم می‌کند.
او گفته است: «اصلاً هیچ توجهی به مدت شش سال از طرف دولت به ما نشده. یا یک کاری بدهد و بگوید که برج پنج هزار یک جای کار کنید که زندگی خود را بکنید».
شماری دیگر از معلولان جنگی، از حکومت می‌خواهند که به پاس تلاش‌های‌شان در صفوف نیروهای افغان، زمینه تداوی‌شان را در کشورهای خارجی فراهم سازد.
مجید حیدری، یک تن از معلولان جنگی است. او پس از اصابت مرمی به گرده‌اش، سر پا ایستاد شده نمی‌تواند.
او می‌گوید که تداوی‌اش در خارج افغانستان امکان پذیراست. وی افزود: «بیبینید که حتی تداوی من می‌شود، امکانش است که به ترکیه دوباره تداوی شوم. دولت من را نمی‌فرستد، به خاطری که واسطه ندارم».
سوسن صبور مسئول بخش حمایت از حقوق اشخاص دارای معلولیت کمیسیون ساحوی حقوق بشر در غرب افغانستان، از افزایش آمار معلولان جنگی سخن می‌زند.
او گفته است: «در حوزه غرب افغانستان که ما فعالیت داریم، تعداد معلولین رو به افزایش است، به خاطری که در همین ماه اخیر تعداد ۵ یا ٦ نفر داشتیم که این‌ها با ماین برخورد کردند و معلول شدند».


## ژوند

## غوره اړیکې؛ غوره ژوند



ستاسو د ژوند ښه والی ستاسو د اړیکو له ښه والي سره تړلی دی. دغه راز ستاسو اړیکې ستاسو د کار له مشرانو سره، ستاسو اړیکې له هغو شرکتونو سره چې تاسو ته جامې او نور توکي چمتو کوي، ستاسو اړیکې له هغه چا سره چې مینه ورسره لرئ او ستاسو اړیکې له خپل ځان سره، دا ټول ډېر مهم دي. که ښې اړیکې ولرئ، هغه ده چې ښه ژوند به لرئ. لومړنی کس چې سلام اچوي، هغه تاسې خپله اوسئ. یوه نوي ځای ته د ننوتو پر وخت مو باید د نورو د درناوي په خاطر دغه جمله پر خوله وي؛ تاسې مهرباني وکړئ! دا جرئت غواړي، ځکه د نورو منل یو څه سخت دي. پر شونډو موسکا مو عادت وګرځوئ. خلکو ته په خپلو نومونو غږ وکړئ، دا د دې مانا لري چې تاسو هغوی ته ارزښت ورکوی. له خلکو سره د خبرو پر مهال د هغوی سترګو ته وګورئ. د خلکو ستاینه وکړئ، خو په صداقت او سپېڅلي نیت سره. د خلکو صفت کول وړیا دي، کوم لګښت نه لري. هېڅکله د مقابل لوري د تعریف او ستایلو موکه له لاسه مه ورکوئ، هغه که په کور او یا هم په کارځای کې وي. دا کړنه د مقابل لوري په وجود کې غوره حس را ژوندی کوي او دا حس بېرته تاسو ته لېږدوي.

## ماشوم ته د الکترونیکي توکو د کارولو وخت وټاکئ



په نني عصر کې د ټکنالوژۍ له کارولو پرته د بشر په ژوند کې پرمختګ ستونزمن دی. ښکاره خبره ده چې اوس ډېری کسان ټکنالوژۍ ته لاسرسی لري او په ورځني ژوند کې ترې ګټه اخلي. پر لویانو سربېره، کوچنیان هم دې ټکنالوژۍ په تېره موبایل او کمپیوټر ته لاسرسی لري، پکې د ساعتېرۍ اپلېکشنونه کاروي او خپلې لوبې پکې کوي، نو ایا کله مو د دې په اړه فکر کړی دی چې د ټکنالوژۍ زیات استعمال د لویانو لپاره او همدارنګه د کوچنیانو لپاره څه زیانونه لري؟ ټکنالوژي د ماشومانو په ذکاوت، ځیرکتیا او هوښیارۍ کې پوره مرسته کولای شي. داسې اپلېکشنونه هم شته چې ماشومان ترې زده کړه کوي او خوشاله یې ساتي. خو که یې له کچې زیات وکاروي، هغه ده چې بیا د ګټې پر ځای ورته زیان رسوي.
که چېرې یو ماشوم یا لوی کس په پر له پسې ډول هر ورځ له ۱۰ ساعتونو څخه ډېر برېښنایي یا ټکنالوژیکي الاتو ته وګوري، نو معلومه خبره ده چې د دوی پر روح او جسم باندې منفي اغېز کوي. د سر درد، زړه تنګون او ژور خپګان لامل یې کېږي او د سترګو دید له کمېدو سره یې مخ کوي. نو اړینه ده چې ماشومانو ته له ټکنالوژۍ سره د بلدتیا تر څنګ، هغوی ته د دې ډول توکو د کارولو لپاره معلوم وخت هم ځانګړی شي.